د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama-afg.org

رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ښاغلی جان هومز د ملګرو ملتونو د عمومی منشی مرستیال په بشری چارو کی او د بیړنیو مرستو همغږی کوونکی**
**علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر سرپرست**

*کابل- د جون د میاشتی ۲۹ نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** آغلیو او ښاغلیو سلام علیکم او ماسپښین مو نیکمرغه. زما نوم علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم. نن ماسپښین زموږ دغه رسنیز کنفرانس ته ښه راغلاست. موږ نن ډیر خوشحاله یو چې نن زموږ سره په بشري چارو کې او د بیړنیو مرستو همغږکوونکی سر جان هومز د موږ سره دي. سر جان هومز تیره پنجشنبه افغانستان ته راغی چې بشری حالت له نږدی و ځیري او د افغانستان خورا زیانمندیدونکو ټولنو د اړتیاو په وړاندي زموږ د غبرګون په ښکیدو کې مرسته وکړي.
مخکی له دي چې زه سر جان هومز ته د خبرو موقع ورکړم چې یو څو لنډی خبري وکړي زه غواړم تاسو تهووایم چې صبا به موږ خپله مطبوعاتی غونډه نه لرو بلکه د هغه په ځای به د راتلونکی پنجشنبه په سهار د ملګرو ملتونو د ماشومانو او وسله والی شخړی لپاره ځانګړی استازی میرمن رادیکا کومار‌اسوامی سره چې پرون افغانستان ته راورسیده، یو مطبوعاتی کنفرانس ولرو.

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي د بشري مرستو د چارو مرستیال:** ډیره مننه، اجازه راکړئ دا ووایم چې زه ډیر خوشحاله یم چې دلته یم. دا افغانستان ته زما لومړی راتګ دي او لا د وخته مې دلته دري ورځی تیری کړي دي. دا یو ډیر لنډ وخت دي خو زما لپاره کافی دی چې په دي وتوانیږم د دولت له استازو سره ووینم. په ځانګړي ډول په ولایتونو کې، د بشری ټولنو د استازو او هم د ملګرو ملتونو د نمایندګیو او د انجو ګانو، او همدارنګه د ایساف د استازو سره هم په کابل کې او هم په ولایتونو کې. زه په دا تیرو دوو ورځو کې و توانیدم چې جلال آباد، ننګرهار ولایت، او کنړ ته ولارسم چې هلته ما وکولای شو د هغو ځایی ټولنو د غړیو سره ووینم چې د شخړی له امله اغیزمن شوي دي او د هغوي سره په هغو ستونزو بحث وکړم چې هغوي ورسره مخامخ دي. له دي ځای به زه د ولسمشر مرستیال له ښاغلی خلیلی سره د دغو ټولو بشری موضوعګانو د بحث لپاره ولاړ سم.
په حقیقت کې چی زه افغانستان څخه د نړیَ والی بشری سیستم د همغږکوونکی په توګه لیدنه کووم د دی حقیقت څرګندوي دي چې بشری وضعه په افغانستان کې له بیلابیلو اړخونو جدی ده او لا پسی خرابیږی چې یو ستر عامل یی د هیواد په بیلابیلو برخو کې د امنیتی وضعی خرابیدل دي.
نو له همدی کبله ما وغوښتل چې دلته راسم او وضعیت په خپله ووینم، له هغو ټولو خواوو سره وګورم چې په دی حالت کې ګډون لري او دا ووینم چې آیا موږ په سمه توګه غبرګون ښیو او که نه. زه فکر کوم چې زما د سفر پای ته نژدی به زه کولای شم دا ووایم چې دغه حالت ته د یو جدی حالت په سترګه ګورو او زه باور لرم موږ اړ یو چې د خپلی بشر پالنی هڅی هم د دغو هڅو د همغږي او هم زموږ د ظرفیت له مخه خپلی بشری هڅی لا پسی زیاتی کړو چې په دي و توانیږو په راتلونکی کې بیلابیلی ستونزی حل کړو.
لکه چې تاسو ټول خبر یاست تر ټولو لومړی جدی ستونزه د خوړو نا امنی ده چې د خوارکی توکو د نړیوالو بیو د زیاتیدو له کبله رامنځته شوي او دلته په افغانستان کې خپل اغیز پریښنی ده او همدارنګه په افغانستان کې د وچکالی له کبله چې به په ځانګړی ډول د سږ کال په حاصلاتو اغیز ولري. د خواړو ستونزه یوه نړیواله غمیزه ده چې د نړیَ په ګوټ ګوټ کې ډیر هیوادونه اغیزمن کړي خو افغانستان په ځانګړی ډول او جدی توګه اغیزمن کوی. زه فکر کوم چې د افغانستان دولت د ملګرو ملتونو سره په ګډه او بشری ټولنو دغه ټکیَ په بیړه سره درک کړ او له همدی امله وو چې موږ د سږ کال د جنوری په میاشت کې د ۸۱ میلیونو ډالرو غوښتنه وکړه. دغه غوښتنه په ښه توګه تمویل شوه او موږ په دي وتوانیدو چې څه نا څه ۲،۵ میلیونه زیانمن کیدونکو خلکو سره په افغانستان کې مرسته وکړو. خو موږ دا هم درک کوو چې دا مرسته کافی نه وه نو له دي کبله موږ د افغانستان د حکومت سره د یوی راتلونکی ستری غوښتنی لپاره کار کوو چې یو شمیر دغه اړتیاوی پوره شي او همدارنګه یو شمیر هغه ستونزو کې ورڅخه کار واخیستل شي چې کرهنه په دي هیواد کې ورسره مخامخ ده.
ما وویل چې د خوړو د امنیت ستونزه تر ټولو بیړنی او جدی ستونزه ده چې د افغانستان خلک ورسره مخامخ دي. خو نوری بشری اندیښنی هم شته د ساری په توګه د هغو راستنیدونکو کډوالو وضعه چې په سترو شمیرو کې د ایران او پاکستان څخه راځي او له سترو ستونزو سره له دي کبله مخامخ دي چې کوم ځایونو کې میشت شی او د یوی موقتی اړتیا د لیری کولو لپاره مرستی روسره وشي. نړیواله بشری ټولنه، د ملګرو ملتونو نمایندګي په خاص ډول د ملګرو ملتونو د کډوالی عالی کمشنری او انجو ګانی په کار لګیا دي چې له دغو راستنیدونکو سره مرسته وکړي. خو موږ د دي اړتیا درک کوو چې باید لا ډیر کار وشی. ما وکولای شو یو شمیر دغه اړتیاوي خپله وګورم کله چې می جلال آباد ته نږدی دوه ورځی دمخه د راستنیدونکو موقت میشت ځآیونه ولیدل.
همدارنګه په دننه کې د بی ځایه شوو خلکو په اړوند هم پرله پسی ستونزی شته چې ځینی یې د شخړی او یا نورو لاملونو له کبله بی ځایه شوي او ځینی د جګړی له کبله په موقت ډول بی ځایه شوي دي د ساری په توګه د هیواد په سهیل کې او موږ غواړو دغو خلکو ته خپله مرستي زیاتی کړو.

زموږ د اندیښنې بل ډګر په افغانستان کې د طبیعي پېښو مسله ده چې افغانستان د بده مرغه له دې سره مخامخ کیږي، چې دغه پېښې زیاتره د سیلابونو او وچکالۍ له امله دي. همدارنګه دا سیمه زلزلې ته متمایله ده او موږ غواړو د دې باور تر لاسه کړو چې د دغو پېښو سره د مقابلې لپاره هغه وخت کې چې منځ ته راځي تر ممکن حده پورې ښه چمتوالی موجود وي او په دې توګه بیا هم له نږدې څخه د افغانستان له حکومت سره کار کوو.
لکه چې ما وویل بشري وضعه د روانو جګړو له امله اغېزمنه او د هیواد په ډېرو ځایونو کې ناوړه حالت ته رسېدلې ده. دا مختلفې اغېزې لري چې یوه له هغوي څخه د بشري مرستو د موسسو د رسېدنې لپاره ستونزمنتیا ده که دا د ملګرو ملتونو موسسې وي او یا هم غیر دولتي موسسې، ځو چې دغه مرستې هغو وګړو ته چې د هیواد په بیلا بیلو برخو کې ورته اړتیا لري ورسیږي.
بله د جګړې اغېزه پر ملکیانو ده په تېره بیا د بیلګې په ډول د جګړو له امله د ملکي تلفاتو منځته را تګ دي چې د پوځي عملیاتو په پایله کې د دواړو اړخونو له خوا منځته راځي او دا د ډېرې اندیښنې وړ ده.

د یوناما د ارقامو له مخې د هغو تلفاتو شمیره د تیره کال په پرتله لوړه شوې چې زیاتره دغه تلفات د شورشیانو له خوا منځ ته راځي چې هغوي د ملکي خلکو د ژوند هیڅ خیال نه ساتي، خو دلته د ملکی تلفاتو د پام وړ داسې شمیرې هم شته چې د نړیوالو ځواکونو له خوا منځته راغلې، چې دا نه یوازې د ایساف له خوا بلکې د نورو نظامي ځواکونو له خوا هم رامنځ ته کیږي.
ما د دغو اندیښنو په اړه د هغو کسانو څخه چې په ننګرهار او کونړ کې مې ورسره لیدنې درلودلې واورېدل او زه په دې وتوانیدلم چې د هغوي د اندیښنو په اړه د نظامي ځواکونو سره هم په ختیځو ولایتونو کې او هم دلته په کابل کې وغږیږم. دا څرګنده ده چې نړیوال ځواکونه هیڅ ډول هڅې نه سپموي چې د ملکي تلفاتو کچه کمه کړي او تاوان ومني، په دې توګه هغوي غواړي چې دا مسله قابو کړي، خو له دې سره سره ستونزې لا هم شته او موږ اړ یو چې هغه حل کړو او د ملکیانو امن باوري کړو هغه څه چې لومړیتوب لري او دا چې بشردوستانه قانون د هر وګړي له خوا رعایت شي.
په دې توګه دا ډېره مهمه ده چیرته چې د مثال په توګه د واکسیناسیون کمپاینونه دي کوم چې د ګوزڼ او نورو ناروغیو په مقابل کې ترسره کیږي په دې توګه موږ غواړو چې د سولې او سوکالۍ د ورځو او د بشري دهلیزونو په پرانیستلو سره دغه عملیات په سوله ییزه توګه پرته له کومې پېښې سرته ورسوو.

یو بل ډګر هغه پرلپسې بریدونه دي چې د خوراکي توکو په کاروانونو او د نورو بشري علمیاتو پر ضد ترسره کیږي. د ملګرو ملتونو نړیوال خوراکي پروګرام سږ کال د جنورۍ او جون په میاشتو کې تر اوسه پورې د ۱۱ هغو بریدونو سره مخامخ شوي دي چې سوداګریزو ترانسپورتي وسیلو په دغه ترڅ کې ټول ټال ۳۴۰ ټنه خوراکي توکي له لاسه ورکړل. دغه ډول بریدونه هیڅکله د منلو وړ نه دي او باید تم شي، هغه د بشردوستانه قانون د هرې فقرې په خلاف دی. زه په خواشینۍ سره وایم چې یو بل برید د نړیوال خوراکي پروګرام په یو بل قطار باندې وشو هغه قطار چې د نیمروز او هلمند ولایتونو په لور روان و، او زه فکر کوم چې ۴۷ لارۍ تر برید لاندې راغلې. موږ ته د دې ټول جزئیات نه دي معلوم خو دغه قطار تر برید لاندې راغلې او دا څرګنده ده چې ځینې لارۍ سوځول شوي او خوراکي توکي له منځه تللی دي او زه یو ځل بیا دا په غوڅه توګه غندم. دا د هیڅ کوم یو ځواک سره مرسته نه کوي او یوازې هغه خلک له خوړو څخه بې برخې کوي چې ورته ډیر زیات اړ دي.
د دې ټولو لاملونو سره لکه چې ما وویل موږ به خپل ظرفیت لوړ کړو او د افغانستان له دولت سره به له نږدې څخه کار کوو، ځو چې د دې وړتیا ولرو چې دغو بشري ستونزو ته غبرګون وښایو او داسې د بشري مرستو یوه نوې کړنلاره په نږدې میاشتو کې ولرو.
خوښ یم چې ستاسو پوښتنو ته اوس ځواب و وایم.

## پوښتنې او ځوابونه

**آئینه تلویزیون**: تاسو د افغانستان د امنیت د ویجاړتیا او د ملکي تلفاتو ځینې لاملونه په ګوته کړل او هغه بریدونه چې د ملګرو ملتوتو په قطارونو کیږي. آیا تاسو فکر نه کوئ چې یو له دې لاملونو څخه همدا وي چې د پاکستان حکومت له طالبانو سره له پولې هغه خوا معامله کړې ده او دا په افغانستان کې د ناامنۍ لامل ګرځي؟
**د ملګرو ملتونو د سرمنشي د بشري مرستو د چارو مرستیال**: تاسو زما څخه یوه ډېره سیاسي پوښتنه کوي او زما مسوولیت بشري دی. جوته ده چې ځینې مسلې باید د افغانستان او پاکستان د حکومتونو تر منځ تر بحث لاندې راشي او حل شي. ملګري ملتونه مرستې ته چمتو دي که چیرې موږ دا وکړای شو، چې د دغو مسلو په

اړه د توافق او هوکړې لاره ولټوو، خو دا زما له نظره ډېره مهمه ده چې دغه ستونزې باید د نړیوالې ټولنې د نورو غړو په مرسته د دوارو حکومتونو تر منځ حل شي.

**ای ایف پي:** کولای شي د سږ کال د ملکي تلفاتو د شمیر په هکله معلومات راکړئ؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي د بشري مرستو د چارو ځانګړي مرستیال:** د یوناما د دفتر د شمیرو مطابق، تر اوسه پورې موږ نږدې ۶۹۸ تنه ملکي تلفات ثبت کړي ، دا شمیرې د جنورۍ څخه د جون تر میاشتې پورې دي، د تیر کال په دوران کې په ورته موده کې دا شمیرې نږدې ۴۳۰ تنه وې. د دې له جملې څخه ۴۲۲ کسان د حکومت ضد عناصرو لخوا وژل شوي، نور ۲۵۵ د حکومت او ایتلافي ځواکونو لخوا وژل شوي او د پاتې ۲۱ کسانود میرنی لامل نا څرګنده دی. دا خبره روښنانه ده چې د هغو مړینو شمیرې چې د حکومت او ایتلافي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي، کچه یې ټیټه شوې. زه فکر کوم چې دا شمیرې تیر کال تر یوې اندازې یو شانته وې، زه فکر کوم چې دا شمیرې سږ کال لکه ۶۰ او ۴۰ فیصده دي، د ملکي وژنو تناسب د پیښو د شمیر په پرتله هم راټیټ شوی، زه فکر کوم چې دا کار د نړیوالو پوځونو د هڅو ښکاروندوي کوي چې د ملکي تلفاتو کچه راټیټه شي. زموږ د شمیرنو مطابق د ملکي تلفاتو ټولیز شمیر سږ کال لوړ شوي دی.

**یوناما:** کولای شم د همکارانو زیرنه هغي حقیقت پاتې ته راو ګرځوم چې په میز موجوده ده، په دې پاڼه کې هغه احصائې موجودې دي کوم چې سرجان نن وکارولې.

**آزاد خبریال:** تاسو د بشري مرستو د نمایندګیو او مخ پر زیاتیدونکی نا امنی لپاره د لاس رسي په هکله یادونه وکړه. د مرستندویه او پراختیایي ټولنې د پام وړ برخه په دې نظر دي چې د پوځ او ولایتي بیا رغوني د ټیمونو له لارې د مرستو د رسولو تر منځ نا څرګندتیا را منځ ته کیږي، او نورو پروګرامونو د مرستندوینه ټولنې لپاره خطرونه زیات کړي او د هغوي د لاس رسي لپاره ممانعت رامنځ ته کوي، او د پوځ سرچینې په په هغه ځایو کې کارول کیږي چې د پوځ د کارپوهنی سره تړاو نه لری،د بیلګې په ډول ښوونه او روزنه، کرنه او داسې نور پروګرامونه. آیا د دې وخت را رسیدلی چې په دې هکله یوه نوې کتنه وشي؟

**د بشري مرستو د چارو لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال:** زه فکر کوم چې لاس رسي ولې ستونزمنه ده؟ د هغه لامل په نا امنی، د امنیتي پیښنو په شمیر او د روانو جګړو په اندازې پورې اړه لري. دا هغه اساسي لامل دی. خو زه دې خبرې ته هم غاړه ږدم چې تر یوې اندازې پورې د پوځي عملیاتو د بیلګې په شان د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو له خوا د بشري مرستو تر منځ ابهام موجود وه او موجود دی. زه فکر کوم دا ډېره مهمه ده چې د ولایتي بیا رغوني ټیمونه په بشري مرستو کې تر هغه وخته ځانونه ښکیل نه کړي ترڅو چې د امنیتي لاملونو لپاره بله کومه لاره موجوده نه وي. زه همدارنګه فکر کوم دا مهمه ده چې د ولایتي بیا رغوني ټیمونه هغه څه ته د بشري مرستو نوم ور نکړي کوم چې دوي یې کوي. زه فکر کوم په هغو خبرو چې زه یې د څو ورځو راهیسي تکرار وم پوځیان پوهیدلی وي، په دې هکله روښانه لارښودونه هم موجود دي. خو هغه څه چې زموږ له نظره ډیر مهم دي هغه دا دي چې د اړتیا سره سم خلکوته مرستې رسول شوي دي او د کومې سیاسي او امنیتي اجنډا په مطابق مرستې نه دي ترسره شوي او دا هم په نظر کې نه دې نیول شوي چې دا اجنډا ښایي په څا پورې اړه ولري. دا د بشري مرستو هغه اساسي اصول دي چې ما ورته اشاره وکړه او زه یې په کله دفاع کوم، زه فکر کوم چې د دې اصولو دفاع په افغانستان کې هم باید په کلکه وشي.

**د پژواک خبری آژانس:** تاسو وویل چې مرستې باید د اړتیاوو په مطابق ترسره شي. آیا تاسو فکر کوئ چې تر اوسه دا مرستې د سیاسي اجنډا پر اساس ویشل شوي دي. تاسو د خوراکي توکو ویش څنګه ارزوئ، آیا دا لړۍ کامیابه وه او که نه؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي د بشري مرستو د چارو مرستیال:** زه فکر کوم چې د اساسي بشري اصولو او اړتیا څخه پرته د مرستو ویش به خطر ولري، زه په همدې خاطر دې مسلې ته د ټولو پام رااړوم چې د اساسي بشري اصولو دفاع وشي، زه نه شم کولای کومې خاصې بیلګې ته اشاره وکړم چې واقع شوي نه وي، خو زه فکر کوم چې د موجوده پیچلي وضعیت د شتون له امله خطر موجود دی. کله چې موږ د خوراکي مرستو په هکله خبرې کو، دا مرستې د نړیوال خوراکي پروګرام، د ملګرو ملتونو د نمایندګیو او انجوګانو له خوا څخه ویشلې کیږي ځکه چې دا هغه نمایندګی دي چې د بشري مرستو په اساسي اصولو ډیر ښه پوه دي او همدارنګه به هغوي هر هغه څه وکړي چې د مرستو ویش د اړتیاوو پر بنسټ او نه د کومو نورو لاملونو په بنسټ

ترسره شي، د دې لپاره زه هغه کسان څوک چې د خوراکي توکو کاروانونه او بشري کارکوونکی تر هدف لاندې نیسي په کلکه غندم.

**نورین تلویزیون**: په هیواد کې د خوراکي توکو د ناخوندیتوب، امنیت او بشري وضعیت په هکله ستاسو د اندیښنو په نظر کې نیولو سره، آیا تاسو فکر نه کوئ کومې مرستې چې تر اوسه افغانستان ته ورکړې شوې، نا کامه شوې دي؟

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي د بشري مرستو د چارو مرستیال**: زه فکر نه کوم دا مرستې نا کمه شوې دي، زه فکر کوم چې موږ باید په قطعي توګه نورې مرستې ترسره کړو. موږ باید په خپله تګلاره کې ډیر زیات ستراتیژیک اوسو، موږ باید په دې زمینه کې زیات ظرفیت ولرو چې د بشري مرستو سره معامله وکړو او همدارنګه موږ باید د نړیوالې ټولنې له اړخه زیاتې سرچینې تنظیم کړو. دا ټولې هغه خبرې دي چې زه یې باید د ځان سره یو سم او کوښښ به وشي چې په دې کې ښه والی راشي. زه فکر کوم چې د سیاسي اجندا په هکله د یو هاوې وړ تمرکز موجود دی، د امنیت، پراختیا او بیا رغونې اجنداګانې ډیرې مهمې دي. ځینې بشري اړتیاوې هم شته چې ښایي له پامه غورځول شوې وي، اوس غواړم دا درستې شي.

**ویاند**: تاسو ټولو څخه ډیره مننه.

---